# د عیسویانو (فصح /ایستر ) کیسه



*Foto: Nina Garman, Pixabay*

کله چې عیسی علیه السلام لوی شو، هغه 12 شاګردانو او اصحابو سره سفر وکړ او خلک دحق او الهي دین ولوري ته راوبلل.عیسی علیه السلام یو مهربان سړی وو چې د ناروغانو اوغریبانو سره کومک او مرسته کول.

عیسی علیه السلام ډیر ملګري پیدا کړ، مګر یو شمیر دښمنان هم درلودل. په هیواد کې ځینې علما او مشران نه غوښتل چې عیسي علیه السلام ټول خلګ په خپل ځان پسي روان کړي. دوی ویره درلوده چې عیسی علیه السلام به ډیر ځواک ترلاسه کړي اودوی باندي پاچاهي وکړي.

## د خرما یکشنبې

د ایستر نه مخکې یو یکشنبه، عیسی علیه السلام او د هغه شاګردان د ایستر جشن لمانځلو لپاره اورشیلم ته سفر وکړ.

هغه له دوو تنوشاګردانو څخه وغوښتل چې د ده لپاره یوه مرکب ومومي. عیسی علیه السلام پر یوه مرکب باندي سپور د اور شیلم لوري ته راغلی. هلته هغه د پاچا په توګه ښکاره شو. هغوی"حوسیانا، حوسیانا، چیغې وهلې .زموږ پاچا راغلی . "دوی د خرما غټې پاڼې د بیرغ په شان ښورول . (حوسیاناد حورا معنی لري.)

## د پاکوالي پنجشنبه- د عیسویانو دماښام وروستی خواړه سرویس کیږي

دا ماښام، عیسی علیه السلام او د ده شاګردان د فصحې /ایستر خواړه سره یوځای وخوړل.په هغه وخت کې، دا عام وو ، مخکې له دې چې څوک د ننه لاړ شي باید لومړی خپلې پښې ومینځی، دا ځکه چې دوی پښې لوڅې یا څپلۍ سره ګرځېدې او پښې چټلیدل.عیسی علیه السلام د کور دروازې ته نږدې، د خپل د تولو شاګردانو پښې ومینځل. هغه دا وښوده چې هر څوک باید د یو بل سره مرسته وکړي.

کله چې دوی کښیناست او ډوډی وخوړل، عیسی علیه السلام وفرمایل : هغه وخت نژدې دئ چې نیول کیږم اوله دې نړې نه تلونکی یم (مړ کیږم). ده وفرمایل:ځیني داسي خلګ سته چې زما سره خوراک او څیښاک کوي مګر غواړي چې ما زما دښمن ته په لاس ورکړي.

د عیسی علیه السلام د شاګردانو څخه یو کس چې (یوداس) نومېدئ دعیسی علیه السلام په اړه شیطانت وکړ او وې ویل :عیسی علیه السلام غواړي چې پریهودیانو باندي پاچاهي وکړي. کله چې هغه ولیدل چې عیسی علیه السلام د پیسو او ځواک پروا نه لري، هغه عیسي باندې په قهر شو....پس له ډوډۍ د شپې ناوخته شوه. عیسی خپل شاګردان باغ ته بوتلو. هلته، عیسی علیه السلام خدای ته دعا وکړه.

همدغه یوداس وو چي عیسی علیه السلام وروښودی چې عیسی علیه السلام په باغ کې دی  او عیسي علیه السلام ددېرشو درهمو په بدل کي دولتي پلټونکو ته په لاس ورکړ. عیسی علیه السلام  اشاره کړې وه چې یوداس غواړي چي ما حکومت ته په لاس ورکړي . نو له دې امله هغه سرتیرو سره په خپله خوښه لاړو٠



*Foto: Falco, Pixabay*

## اوږده جمعه ـ د آزموینې ورځ ، قضاوت، په دار ځړول (صلیب کول) او د مړي ښخول

عیسی علیه السلام پوهیده چې هغه به مړ شي. خدای دادېر ښخوا پلان کړی و. پس له دې چې عیسی علیه السلام نړی ته راغي، هغه پوهیده چې دا به واقع شي. دده مبارک دغه تعذیب دټول بشریت دګناهونو کفاره ده . او اوس همدا وخت راغلې دی، سرتیرو عیسی علیه السلام مذهبي مشرانو ته ویوړ. دوی باور ونه کړ چې عیسی علیه السلام  دالله جل جلاله زوی دئ . دوی ووئیل، "هغه باید مړ شي ځکه چې هغه خپل ځان د خدای زوی بللی دی." دوی عیسی علیه السلام په یو ځای کې چې ګولګاتا نومیده په دار و ځړول ,په لاسونو او پښو یې میخونه وټکول، او صلیب یې کړی . په همدې ځای دعیسی علیه السلام ساه وخته.

تقریباً 2000 کاله مخکې، دا د جنایتکارانو د مجازاتو یوه عادي لاره وه. "دا ورځ د عیسی علیه السلام د شاګردانو او د هغه د ټولو ملګرو لپاره یوه غمجنه ورځ وه . دوی نه پوهیدل چې خدای د هغوی لپاره حیرانتیا جوړوي. دوی د ډیری مودې لپاره خواشینی نه و.

## د ایستر پاک شنبه ـ د قبرځای له امنیتي تدابیرو لاندې ونیول شي

کله چې دعیسی علیه السلام ساه وخته.، ملګري یې راغی عیسی لاش یوړود او د یو غر په غار کې کیښودو دا قبرد عیسی علیه السلام شاګردان  له یو سړی چه یُوسف نُوم ئې وو ترلاسه کړل.

یُوسف  غوښتل چې د خدای زوی د ده وروستی ډالۍ ترلاسه کړي .

دوی بیا یې عیسی علیه السلام یو سوړ غار ته ووړ او مشران یوه غټه تیږه یې ترشاه کینوده او څو سرتیرې هم آلته په دندې وګمارل تر څو چې دَعیسی علیه السلام شاګردان رانشی، او د عیسی علیه السلام لاش په غلا ونباسی.

## دایستر لومړی ورځ

د یکشنبې په ورځ سهار وختی زلزله شوه. یو پرښته د آسمان څخه راغي او هغه لوئی کاڼي ئې د غار له دروازې څخه راورغړولو. کله چې ساتونکي پرښته ولیدله، هغوی په ویره کې له هدېری څخه وتښتېدل.

لږ وروسته د عیسی علیه السلام د ملګرو څخه یو کس چې مریم مګدالېنا نومیده راغی. کله چې هغوی دی قبر منځ ته ننوتل چې دوه پرښتې یې ولیدې او پرښتو وویل، ولي ژوندی په مړو کې لټوی؟ هغه دلته نشته، ژوندی دی، ځې د عیسی علیه السلام یارانو ته ووایئ چې عیسی علیه السلام به هغوی ته ځان ښکاره کوی او تاسو هغه بیا وینئ.

نور ماریا غمجن نه وه. عیسی علیه السلام نور مړ نه وه هغه ژوندی وه، هماغه ښځه منډه یې واخیسته او د عیسی علیه السلام یارانو ته چې یو ځای کې ټول شوي وه خبرورکړ.

## د ایستر دوهمه ورځ

لومړی، د عیسی علیه السلام شاګردانو هیڅ یو د مګدالینا په خبرو باور ونکړ . خو هغه رښتیا وه!

د ایستر دوهمه ورځ عیسی علیه السلام هغوی ته ځان ښکاره کړل. هغه واقعا دمړو نه راپورته کړ!

## اسمان ته پورته کېدل ورځ

پس له څلویښت ورځې ، عیسی علیه السلام خپل شاګردان یو لوی غر ته نژدې ځای ته بوت. هغه خپل لاس پورته کړ او هغوی ته دعا وکړ. هغه وویل: "هر څوک ته زما په اړه وواياست." هغه بیا آسمان ته پورته شو.

دا ورځ ته موږ دآسمان پورته کیدو ورځ وایو. یو وریځ داسې هغه پټ کړ چې دوی نور ونه لیدل. دوی یوه شېبه ولاړ وو او آسمان ته یې کتل.

ناڅاپه، هلته دوه پرښتې وې. "ولې تاسو لا تر اوسه ولاړ یاست او وریځې ته ګورئ؟" " عیسی علیه السلام اسمان ته پورته شو. اویوه ورځ په همدې لاره چې تاسو پرېښوده به راګښته کیږي" .

وروسته بیا دده شاګردان چې په زړه کې خوشحاله وي ښار ته راستانه شول. عیسی علیه السلام دوی ته ډیر شیان زده کړ. دوی به تل په یاد ولري چې هغه وویل، "اندیښنه یا ډار مه کوئ. په خدای باور ولرئ او پر ما باور وکړئ. د خدای په کور کې ډیری کوټې شته. زه به ستاسو لپاره یو ځای چمتو کړم. زه یوه ورځ بیرته راځم او تاسو هم ځان سره به واخلم ترڅو تاسو هم هلته وي چې زه هلته یم."